پخې وېناوې:
ابن خلدون:
تر ټولو لومړی باید د انسان فکر اصلاح سي، ځکه د ټولني جوړښت د انساني فکر محصول دی.

طلوع افغان

نبوي مرغلرې:
رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايلي دي:
ژباړه: له تاسو هیڅ سړی کامل مؤمن نه سي کېدای، تر څو چي زه لره زما محبت تر خپل مور، پلار، اولاد او تر ټولو خلکو ډېر نه سي.
«رواه البخاري»

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"
د امتیاز خښتن: د کندهار اطلاعات او فرهنګ ریاست
په اوونۍ کي دوه واره چاپېږي

د تأسیس کال: ۱۳۰۰ لمریز، پنجشنبه ۳/محرم الحرام/۱۴۴۸ هـ ق، ۲۸/غبرګولي/ ۱۴۰۵ ل کال - ګڼه (۱۵)
Thursday-18-June-2026 Issue: 15

د بهرنیو چارو وزیر: افغانستان د منځنۍ او جنوبي آسیا تر منځ، د سیمه ییز اتصال ستر ظرفیت لري

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز په کوربه توب؛ د افغانستان، منځنۍ آسیا او اذربایجان د څېړنیزو مرکزونو ناسته د سه شنبې په ورځ د ازبکستان، ترکمنستان، قزاقستان، قرغزستان، تاجکستان او اذربایجان هیوادونو د استازو په شتون کي، په پلازمېنه کابل کي پیل سوه.

د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي د یادي ناستي په پرانیستونکې وینا کي هیله څرګنده کړه، چي دا ناسته به وکولای سي، د سیمي ترمنځ په علمي، څېړنیز او فکري ګډو برخو کي د همکارۍ ډګرونه په ګوته او پیاوړې کړي او دولتي پرېکړه کوونکو ته عملي او رغنده طرحي او وړاندیزونه وړاندي کړي.
هغه زیاته کړه، د نړۍوال جوړښت بدلونونو او ننګونو ته په پام، اوسنی نړۍوال نظم، د تاریخ په یو حساس پړاو کې دی، هغه پړاو چي له یوې خوا بېلابېل توهمات او متضاد روایتونه رامنځته سوي او له بلي خوا د ډله ییزي او څو اړخیزي همکارۍ هڅي لیدل کېږي.
مولوي امیر خان متقي څرګنده کړه، اوس مهال د افغانستان او د اذربایجان په ګډون، د منځنۍ آسیا هیوادونو ترمنځ، اړیکي په عملګرایانه ۴مخ

د میل ۱۷۸ ابو نصر فراهي سړک له رغنیزو چارو لیدنه وسوه

د افغانستان اسلامي امارت د ټولګټو وزیر ملا محمد عیسی ثاني جنوب لویدیځ زون ته د خپل سفر په بهیر کي، د فراه ولایت د میل ۱۷۸ ابو نصر فراهي سړک له رغنیزو چارو لیدنه کړې ده.
باختر اطلاعاتي آژانس ته د ټولګټو وزارت د رسنیز دفتر د معلوماتو له مخي، ملا محمد عیسی ثاني د یادي پروژې انجینرانو، مسئولینو او تخنیکي تیمونو ته لارښوونه کړې چي د دې پروژې چاري پر ټاکلې موده معیاري ډول بشپړې کړي.
د میل ۱۷۸ ابو نصر فراهي سړک ۱۱۷ کېلو متره اوږدوالی لري، چي له دې جملې ۶۴ کېلو متره یې پخوا رغول سوی او د پاته ۵۳ کېلو متره برخي د جملې څخه یې د ۴۵ کېلو متره سړک رغنیزي چاري بشپړي سوي او د ۴مخ

د اوبو ذخیره کولو بند جوړ او ګټې اخیستنې ته چمتو سو

د کندهار ولایت په تخته پل ولسوالۍ کې د ۲،۷ میلیونو افغانیو په ارزښت، د اوبو ذخیره کولو یو بند جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل سو.
د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست ویاند محمد حنیف حقمل باختر خبري آژانس ته ویلي، د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله تعالی د ځانګړي حکم له مخې د کرهنې، اوبو لګولو او مالدرۍ وزارت د پراختیایي بودجې څخه د دوه میلیونه ۴مخ

د پاکو اوبو رسولو شبکه بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل سوه

د کندهار ولایت په معروف ولسوالۍ کي لسو نو کورنیو ته د پاکو اوبو رسولو د یوې شبکې جوړولو چاري بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل سوه.
د کلو، بیارغوني او پراختیا ریاست ویاند رحمت الله شاکر ویلي، د معروف ولسوالۍ د سیفلزو په کلي کي د یونیسف په مالي ملاتړ، د پنځو میلیونو افغانیو په لګښت، د ۳۸ کورنیو له پاره د پاکو اوبو رسولو د شبکې جوړولو چاري بشپړي او ګټې اخیستني ته وسپارل سوه. ۴مخ

څلور ټنه پاکستاني درمل او نور قاچاقي توکي ونیول سول

هلمند ولایت مقام

د فراه ولایت امنیتي مسئولینو ویلي، په دې ولایت کې د یو ټن بېلابېلو پاکستاني درملو د قاچاق مخه نیول سوې ده.
د فراه د امنیې قوماندانۍ مطبوعاتي مسئول ملا کلیم الله ننګیال باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، د مرکز اړوند، د اوومي ناحیې په سیمه کي د جنایي جرمونو په وړاندي د مبارزې او چمتووالي مدیریت د امنیتي او کشفي ځواکونو د عملیاتو پر مهال، یو ټن بېلابېل درمل کشف او ضبط سوي دي. ۴مخ

زرونه کېلو ګرامه بېلابېل درمل وسوځول سول

د هلمند ولایت فرعي ګمرکاتو ریاست له لوري د مرکز لښکرګاه اړوند، د بست کلا، په رېګ سیمه کي قاچاقي ۲۱۴۱۷ کېلو ګرامه انساني، زراعتي او حیواني درمل وسوځول سول.
د یادو درملو د له منځه وړلو پر مهال، د فرعي ګمرکاتو ترڅنګ، امنیه قوماندانۍ، استخباراتو، اطلاعاتو او فرهنګ، عامې روغتیا، کرهنې، صنعت او سوداګرۍ او ښاروالۍ ریاستونو استازو حضور درلودی.
د فرعي ګمرکاتو ریاست رئیس حاجي حقمل صاحب باختر ۴مخ

د مطالبو سرلیکونه

- څلور امامان؛ قدم په قدم! (ژباړه: مولوي محمد اکبر)
- د تاریخ مأخذونه او ډولونه ("ذبیح الله "شفق)
- د علم ترڅنګ: فهم مهم دی! ("نعمت الله "شاکر)
- معیاري پښتو؛ د اروابښاد پالوال... ("محمد هارون "صمیم)

د طلوع افغان خبري (سرلیکنه)

د افغانستان د امنیت په وړاندي ګواښ به؛ په نطفه کي له منځه وړل کېږي!

د افغانستان ملي دفاع وزارت خبر ورکړی چي په بلوچستان او خیبر پښتونخوا کي یې د داعش او نورو مخالفو وسله والو ډلو پټنځایونه د ډرون الوتکو په مټ په نخښه کړي دي.

ملي دفاع وزارت ویلي، له دغو پټنځایونو به د افغانستان د ناامنۍ هڅي کېدلې.

په اصل کي خبره داده چي د افغانستان امنیتي ثبات او د اقتصادي پرمختګ هڅو د پاکستان د پوځي رژیم خوبونه تښتولي دي، دوی په یو ډول نه یو ډول، دا هڅه کوي چي د افغانستان د ثبات او پرمختګ مخه ونیسي، په همدې موخه د هیڅ ډول ناولو کړنو څخه لاس نه اخلي.

خو ښه خبره داده چي افغان حکومت او افغانان نور د پاکستاني پوځي رژیم په ناوړه موخو، د دوی په حسد پوه سوي دي او همداسي چوپ نه کښېني، بلکي خپل په دښمن پسي هماغه د دوی پټنځایونو ته ورځي او خنثی کوي یې.

د پاکستان پوځي رژیم ولي داعش او نور د افغانستان مخالف وسله وال حمایه او ساتي؟

د پاکستان پوځي رژیم ځکه د داعش او نورو افغان ضد عناصرو ساتنه او ملاتړ کوي، چي دوی یوه ډېره غلطه محاسبه کړې ده، هغه محاسبه داده دغه رژیم دا فکر کوي، چي د افغانستان ثبات د دوی په زیان دی، دوی داسي یو افغانستان غواړي چي تل د نورو د جګړو میدان وي، داسي یو افغانستان غواړي چي د دوی د سوداګریزو توکو له پاره بازار وي او داسي یو افغانستان غواړي چي د ډیورنډ فرضي کرښه په رسمیت وپېژني او په بهرني سیاست کي د دوی د ریاست تابع وي.

حال دا چي دا خیال او محال خبره ده، دا له واقعیت سره هیڅ سر نه خوري او نه هم امکان لري چي د دوی دا ارمان دي پوره سي، تر څو چي یو افغان ژوندی وي، دوی به پرې نه ږدي چي خپلو ناولو موخو ته ورسېږي.

دا معلومه ده چي د پاکستاني پوځي رژیم په وړاندي، د ټولو افغانانو ږغ یو دی، هر افغان که لوی دی او که کوچنی، که استاد دی او که شاګرد، د پاکستان په وړاندي د اروابښاد سردار محمد داؤد خان په څېر کلک او پیاوړی دریځ لري.

اداره

بېلابېل موضوعات

څلور امامان؛ قدم په قدم!

ليکوال: عبدالله فاراني (اشتياق احمدرح) ژباړه: مولوي محمداکبر ۵۵ برخه

د اطمینان اظهار دي وکړ، تر دې پېښي وروسته، څو ورځي درس ته حاضر نه سو. یو ملګری یې ورغلی، پوښتنه یې ځني وکړه، نو ده ورته وویل: کالي مي غلا سوي دي، کوم کالي چې مي اغوستي دي، بیا مي د یو ملګري څخه یو دینار واخیستی او کالي مي په رانیول:

د ده شهرت هري خوا ته خپور سوی و، د دین او دین دارۍ خبري یې کېدلې.

په دې حالاتو کي یو سړی ولیدی چې امام صاحب قلم او مشوانۍ را اخیستې ده، د یو محدث خوا ته روان دی، نو په حیرانۍ سره یې وپوښتل:

ای ابو عبدالله! تاسو د علم په محاذ ډېر رسېدلي یاست، بیا هم په سبق پسي روان یاست:

د دې خبري په اورېدلو سره امام صاحب وویل:

دا قلم او دا مشوانۍ خو به تر قبره را سره وي.

محمد بن اسماعیل صانع ویلي: زه یو واري بغداد ته ولاړم، امام احمد بن حنبل مي په داسي حال کي ولیدی چې څپلۍ یې په لاس کي اخیستي وې، ځغستل یې، زما پلار ور وړاندي سو، تر جامو یې ونیوی او ځني ویې پوښتل:

«اې ابو عبدالله! تر کومه وخته به د علم په طلب یاست یعني طالبي به مو تر کومه وي، دا د ماشومانو په څېر ځغاستي نه شرمېږې؟»

امام صاحب په جواب فقط دا ورته وویل:

تر مرګه پوري!

او وړاندي روان سو.

د طالبۍ په وخت کي چې به یې کوم حدیث لوستی، په هغه باندي یې عمل هم کاوه، تر دې چې کله دا حدیث ولوستی چې نبي علیه السلام حجامه وکړه او حجام لبو طیب ته یې یو دینار ورکړ، نو ده هم حجامت وکړ او حجام ته یې یو دینار ورکړ.

نوموړی د امام شافعي د خاص شاګردانو څخه و، د وفات تر وخته له هغه سره و.

یو وار د ده زوی پوښتنه ځني وکړه:

«دا شافعي څوک دی، زه تا وینم چې هغه ته ډېري دعاوي کوې؟»

امام احمد بن حنبل وویل:

«زویه! شافعي د نړۍ له پاره د لمر او د بدن له پاره د روغتیا په څېر دی، آیا د دې دواړو بدیل سته؟ زه د ډېرشو کلونو راهیسي هغه ته دعا او استغفار کوم، هر هغه څوک چې په لاس کي یې قلم او مشوانۍ وي، پر هغه باندي د شافعي احسان دی!»

محفوظ بن ابو توبه بغدادي ویلي:

یووار ما امام احمد بن حنبل د امام شافعي په درس کي ولیدی، نو هغه ته مي وویل:

اې ابو عبدالله! هلته د مسجد په یوه څنډه کي سفیان بن عیینه درس شروع دی یعني ولي د هغه په درس کي نه کښېنې؟ امام احمد وویل:

«دا شافعي به بیا پیدا نه کړې او هغه سفیان به بیا هم و مومئ!»

قتیبه بن سعید ویلي:

«زه بغداد ته د احمد بن حنبل لیدني ته ولاړم، نوموړی د یحیی بن معین سره یو ځای زما خوا ته راغی او موږ د حدیثو مذاکره شروع کړه، تر کومه چې دا مجلس روان و، امام احمد بن حنبل ولاړ و، کله چې ما ورته وویل: اې ابو عبدالله! پر خپل ځای کښېنه...! تاسو زما فکر مه کوئ... زه غواړم علم په دې طریقه ترلاسه کړم.

نوموړي تر څلوېښت کلونو پوري د بې شمېره استادانو څخه مسلسل علم ترلاسه کړ، نو بیا یې یو ځای خپله درسي حلقه جوړه کړه او فتوی ورکول یې پیل کړل.

د امام صاحب یو ګاونډی په ګناوو اخته و او د ګناه په کارو کي ډېر وړاندي تللی و، یوه ورځ د امام صاحب مجلس ته راغی، سلام یې ادا کړ.

نور بیا...

د تاریخ مأخذونه او ډولونه

ذبیح الله "شفق" دوهمه برخه

د لیک او لوست را منځته کېدنه په اصل کي د بشر لویه کامیابي او لاسته راوړنه وه او د بشر د همدغه نامیتوب برکت و چې انسان یې تر فضا او آن تر نورو سیارو پوري ورساوه. دا چې تر تاریخ وړاندي دوره لرغونپوهانو پر درو لویو دورو وویشله، نو ور سره هم مهاله تاریخ لیکونکو دا اړتیا محسوس کړه چې تاریخي دوره هم پر ډولونو وویشي، ځکه خو یې د یادي اړتیا له مخي، تاریخي دوره پر څلورو پېړیو وویشله چې پر تفصیل یې دلته تم کېدنه بې ګټې نه ده:

۱- لومړنۍ پېړۍ: د لیک او لوست د منځته راتلو څخه چې درې زره کاله پخوا تر مېلاده زمانه ده، پیل بیا تر پنځمي مېلادي پېړۍ پوري رسېږي.

۲- منځنۍ پېړۍ: د پنځمي مېلادي پېړۍ څخه پیل، بیا تر پنځلسمي مېلادي پېړۍ پوري رسېږي.

۳- نوې پېړۍ: د پنځلسمي مېلادی پېړۍ څخه پیل، بیا تر اتلسمي مېلادي پېړۍ پوري رسېږي.

۴- معاصره پېړۍ: د اتلسمي مېلادي پېړۍ (د فرانسې د لوی انقلاب) څخه پیل، بیا تر اوسه دوام کوي.

د تاریخ د لوی وېش څخه وروسته بیا ځینو مؤرخینو د تاریخ ځیني ډولونه هم مشخص کړي چې ګواکي تاریخ څو ډوله کېدای سي.

د اسلامي تاریخ لیکوال اکبر شاه نجیب آبادي په خپل کتاب (د اسلام تاریخ) کي تاریخ د کیمیت له پلوه پر دوو برخو وېشي: عام تاریخ او خاص. دی پر هر ډول د لا روښانتیا په اړه ښه سم تم سوی او داسي یې لوستونکو ته ور پېژني:

عام تاریخ: هغه تاریخ ته ویل کېږي، چې د ټولي نړۍ حالات په کښي ذکر یا وړاندي سي. معنی دا چې په نړۍ واله سطحه پېښي را وسپړي، هغه که د نړۍ سیاسي حالات وي، یا نوري نړۍ والي پېښي.

خاص تاریخ: مولانا آبادي ویلي: خاص تاریخ بیا هغه ته ویل کېږي چې د یوې سیمي، هیواد یا یوې واکمنۍ په اړه معلومات په کښي وړاندي سي. لکه په افغان تاریخ کي د یو ټبر یا قوم تاریخي شالید وړاندي کول، یا د ځینو افغان واکمنیو څېړل او معلومات وړاندي کول.

مولانا آبادي تاریخ د کیفیت له مخي هم پر دوو برخو وېشي: روایتي او درایتي.

۱- روایتي تاریخ: هغه تاریخ ته ویل کېږي چې راوي (د پېښي وړاندي کوونکی/ سپړونکی، څېړونکی) خپل بیان د مشاهدې (لیدني) پر بنسټ لیکلی وي او د هغه پېښي د پېښېدو په اړه د منلو وړ او باوري اسناد مؤرخ ته په لاس ورغلي وي او یا مؤرخ په مستقیم ډول هغه پېښه لیدلې وي.

مولانا آبادي روایتي تاریخ خورا ګټور ګڼي او وايي، دغه ډول تاریخونه تر ټولو ګټور او د منلو وړ ګڼل کېږي او په هغو کي په اټکلونو پسي نیلي ځغلول او نامعلومو خبرو ته د رښتیا د جامې اغوستلو له هڅي نه هم سړی خلاص وي. که څه هم روایتي تاریخ تر یو حده باوري او بامفهومه ښکاري، خو هله نور هم غوښن او معیاري و برېښي چې راوي پېښه تر لیدلو وروسته بې قضاوته وړاندي کړې وي.

۲- درایتي تاریخ: هغه تاریخ چې د پخوانیو آثارو، نقلي او عقلي اټکلونو (قیاسونو) پر اساس ترتیب سوی وي، درایتي تاریخ بلل کېږي. دا ډول تاریخ که څه هم ګټور بلل کېدای سي، خو باوري علم او اخذ خي اخیستل به تر ډېره نا ممکن کار وي.

نور بیا...

د علم تر څنګ؛ فهم هم مهم دی!

نعمت الله "شاکر"

د فهم یوه اساسي ګټه داده، چې د وخت د تقاضاوو مطابق، علم تطبیق سي.

د قرآنکریم او نبوي حدیثونو علم حاصلول، مهم او مقصودي کار دی، خو د هغه علم او حکمونو تطبیقي ساحې تشخیصول تر علم زیات مهم دي.

په کوم وخت کي پوره لمونځ کول غوښتل سوی او په کوم وخت کي قصر؟

په کوم وخت کي د روژې نیولو حکم سوی او په کوم وخت کي د روژې نه نیولو حکم سوی دی؟

په کوم وخت کي د دعوت او تبلیغ حکم او په کوم وخت کي د جهاد حکم دی؟

په کوم وخت کي د لمانځه تر فرضیت مخکي لمونځ کول شرعي حکم او په کوم وخت کي په قصد سره د فرض لمانځه فوتول شرعي حکم دی؟

په کوم وخت کي د جګړې حکم او په کوم وخت کي د صلحي حکم دی؟

په کوم وخت کي له مخالفینو سره د شدت حکم او په کوم وخت کي د خفت (نرمۍ) حکم دی؟

په کومو ظروفو او شرائطو کي کومه اقتصادي ستراتیژي او پالیسي جوړول په کار دي او په کوم وخت کي د هغې مخالفه ستراتیژي، د تطبیق وړ ده؟

په کوم وخت کي له سترو قدرتونو او سیمه ییزو هیوادونو سره کوم ډول سیاسي تعاملات مناسب دي؟

د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه وو کرامو سیرت او مختلف شرعي احکام دقیق لوستل، د اوسنیو مسلمانانو پخوانی برم اعاده کولای سي.

معیاري پښتو؛ د اروابښاد پالوال مهم او علمي اثر

محمد هارون "صمیم"

معیاري پښتو؛ د ډاکټر عبدالرازق پالوال له خورا مهمو او علمي آثارو څخه دی، چې د اول ځل له پاره د نن څخه شل کاله مخکي چاپ سوی او خپور سوی دی. دا مهم کتاب د ژبني ارزښت له مخي، په څو- څو واري چاپولو ارزي، خو دا چې اوس چاپېږي، ډېره د خوښۍ خبره ده.

اروابښاد پالوال د دې کتاب په اړه ویلي، د پښتو غیر معیاري لیکنو، اخبارونو او د راډیوګانو ساختګي ژبې دې ته اړ ایستلی دی، چې پر معیاري پښتو کار وکړي او ویې لیکي، تر څو پښتني ټولنه په خپله ژبه داسي پوهېدلې وي، چې د عامیانه وګړیزې پښتو او معیاري پښتو تر منځ توپیر وکولای سي.

اروابښاد پالوال په دې کتاب کي په علمي دلایلو دا ثابتوي، چې کلاسیکه لومړنۍ پښتو په لومړي سر کي یو ډول ویل کېدله او بیا د بېلابېلو مهاجرتونو او مختلفو علتونو له مخي، پر څو ژبڅانګو ووېشل سوه او هري ژبڅانګي بیا په خپل ځان کي بېلابېل تغیرات په ځانونو کي راوستل، چې د لومړنۍ معیاري پښتو بڼه او شکل یې تغیر کړ او اوس په مطبوعاتو او مېډیاوو کي د همغه لومړنۍ معیاري پښتو خلاف ژبه ویل کېږي، چې دی یې په لیدلو او اورېدلو زهیر کېدی او پښتنو ته د لومړنۍ معیاري پښتو پر پله د تګ وړاندیز کوي.

د کتاب یوه برخه د ژبې زماني اوښتون او بله برخه یې د اوسنیو ژبڅانګو او بیا په خاص ډول د ترمخنۍ کلاسیکي پښتو او اوسنۍ ختیځې پښتو پر مقایسوي څېړنو باندي ډکه ده. که د پښتو د معیاري کولو او کره کولو له پاره د یو متحد او ګډ معیار د ټاکلو تاریخي بهیر ته وګورو، نو دا راته معلومېږي چې په دومره پراخ او علمي انداز سره تر اوسه د پښتو د ټولو لهجو د لوړ و ځوړ نچوړ نه دی را ایستل سوی او نه هم معیار ته د رسېدلو په غرض، د ژبې تاریخي اصالت، لکه څنګه چې ښایي هغسي څېړل سوی نه دی. په دې برخه کي بېله مبالغې حاضر اثر یو له مهمو او طاقو آثارو څخه شمېرل کېږي.

دا کتاب د مرحوم پالوال د اولادونو په مالي کمک تر تاسي پوري در رسېږي. د دوی یې کور ودان چې د پښتو ژبې د یو مهم او مغتنم اثر په چاپولو کي همکاري کوي.

دورکي اعلانونه

دورکي اعلانونه

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د ګل احمد د محمد نعیم د زوی او د فضل کریم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0703051890**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د شکوفه افغان د محمد صدیق د لور او د ختر محمد د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0705623370**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د نقیب الله شاکر د نصرالله د زوی او د غلام محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0703132433**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د نقیب الله د محمد امید د زوی او د صاحب خان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0700236681**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د آمنه عرفان د احمدالله د لور او د ملا نقشبند د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0704675998**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د فضل احمد د محمد عیسی د زوی او د شېرعلي د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0711248994**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د عبدالجبار د محمدخان د زوی او د حاجي عبدالغفار د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0701080160**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د سید احمد بارک د عبدالنصیر ناصري د زوی او د عبدالکریم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0708253321**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د عبدالغني د بور محمد د زوی او د خدای نور د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0702581521**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د بهاءالدین د فدا محمد د زوی او د سید محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0700277550**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د عبدالرحیم د عبدالکریم او د غلام رسول د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0709004214**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د نقیب الله د محمد رحیم د زوی او د حاجي عبدالغفار د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0707803484**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0702337290**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د نعمت الله د عبدالواحد د زوی او د عبدالاحد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0700203059**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د نصیب الله د ندامحمد د زوی او د حاجي سید محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0702733982**

* * *

درې قطعې برېښنايي تذکرې چي د هومیمن سالارزی، عباس سالارزی رافعه سالارزی د فضل محمد د اولادونو او د نور محمد د لمسیانو په نومون ودي، ورکي سوي. هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0798015852**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د رفیع الله د ملا عبدالله د زوی په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0703052370**

دورکي اعلانونه

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د محمد عوض عابدي د رحیم الدین د رازمحمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0700863415**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د رحمت الله د حاجي محمد هاشم د زوی او د خان جان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0786260799**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د شبیر احمد د مولوي سعدالله د زوی او د حاجي بیاخان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0703711973**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د سعیده د محمد یار د لور او د جمال الدین د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0703881200**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د رقیه د حیات الله د لور او د ملا رحیم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **07061606487**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د مسیح الله د حید د زوی او د علي جمعه د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0702693840**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د حیات خان افغان د آغاګل د زوی او د عبدالحد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0748724801**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د عبدالبصیر د عبدالولي د زوی او د دادان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0707919501**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د نصیراحمد د دین محمد د زوی او د محمد کرم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0705627821**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د محمد رفیق د فضلي احمد د زوی او د سید محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **07049695088**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د نجیب الله وفا د عبدالولي د زوی او د عبدالشکور د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0703742100**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د نصیب الله د محب الله د زوی او د محمد شفیق د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0705816049**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د محمد د عبدالواحد د زوی او د غلام دستګیر د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0703016259**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د خان شېرین د سبا داد د زوی او د محمد افضل د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0700370840**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د نعمت الله د عبدالکریم د زوی او د بورګل د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0704559619**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د نعمت الله د حاجي ندا محمد د زو ی او د حاجي خدای نظر د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0711368972**

* * *

یوه قطعه برېښنايي تذکره چي د نازیه د عبدالعلي د زوی او د بادار د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: **0708148929**

شعري برخه

د طلوع رنګيني وړانګي

نعت شریف

امیر حسن "نوري"

توره سوې وه تیاره وه
خومره بده زمانه وه

* * *

ظالمان په کښې نېکان وو
مظلومان په کښې حیران وو

* * *

یو پر بل یې کوو جبر
هر چا کړو په بدو فخر

* * *

ډېر په اوج کې جهالت و
نه انصاف نه عدالت و

* * *

څه د ټول بشر خواري وه
د بتانو بندګي وه

* * *

بس یو نور الله جل جلاله پیدا کړ
یو رهبر الله جل جلاله پیدا کړ

* * *

هغه بالکل پاک معصوم و
د خدای شان ورته معلوم و

* * *

په اخلاقو کې هم ستر و
او بې حده دلاور و

* * *

خدای غوښتل چې پام یې وکړ
نه و ناست قیام یې وکړ

* * *

ظالمان یې کنډ کپر کړل
ټول بتان یې کنډ کپر کړل

* * *

د مظلوم د سر پناه سو
زموږ د لاري رهنما سو

* * *

لارویان د جانان ډېر سول
د توحید شاهدان ډېر سول

* * *

د سپین لمر وږم یې خپور کړ
د اسلام توږم یې خپور کړ

* * *

پر خدای ګران و ګران بې حد دی
ښکلی نوم یې محمد صلی الله علیه وسلم دی

غزل

احمد "بریالی"

د هر چا ژوندون تباه کړي اخلاق بد
د خبرو رنګ خراب کړي سیاق بد

* * *

د هر چا سي خپله مینه دومره خوښه
تر پردو ښو ورته تېر وي اطاق بد

* * *

یو الله جل جلاله وي په یوازي شهنشاه خو
د انسان سره دائم یې ژوند طاق بد

* * *

ګناه هره د سړي ژوندون خراب کړي
خو تر ټولو له مور پلاره وي عاق بد

* * *

رب دي نامِ مسلمان ورڅخه ژغوري
په روا کارو کې ډېر وي طلاق بد

* * *

ساعتونه د وصال خواږه ترخه کړي
وي پر ژوند تر دې قبیله فراق بد

* * *

د آخري زمانې وي داسي حال چي
له ماښامه به وي ښه په اشراق بد

* * *

سره ټول یې **"بریالی احمده"** نه وي
چي کورونو ته داخل سي نفاق بد

مسئول مدير: ــــــ بريالی "فيضي"
د تصحيح مسئول: ــــــ حاجي عبدالله "ذاکري"
کمپوز او ډيزاين: ــــــ نصير احمد "صابر"
د مديريت شمېره: ــــــ ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزيع مديريت شمېره: ــــــ ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پته: ــــــ علامه حبيبي واټ – اطلاعاتو او فرهنګ رياست
د برېښناليک پته: ــــــ baryafaiz981@gmail.com

د ګډون کوونکو له پاره خبرتيا!

د طلوع افغان تاريخي خپرونه چې د هېواد په مطبوعاتي تاريخ کې ځانګړی ځای لري. که غواړئ چې د لمريز کال په آخرکې د طلوع افغان تاريخي ورځپاڼې يو بشپړ کلکسيون ولری، په طلوع افغان ورځپاڼه کې ګډون وکړئ.

د ګډون کلنی بيه ۵۰۰- پنځه سوه افغانی، زده کوونکو او محصلينو ته د تصديق په وړاندي کولو سره نيمه بيه ټاکل سوې ده. اداره

Tolo-E-Afghan Journal

طلوع افغان مديريت له ټاکلي ليکنيز معيار سره سم، د ليکنو په اصلاح کې د لاسوهني حق لري.

ګرانو لوستونکو! په ډېر احترام هيله کېږي، چې د اسپېڅلي پاڼې بې ځايه و نه غورځوئ!

Founded in 1921 ISSue:15 Established in 1300 Hijri

اعلانونه او خبرتياوي

په اجاره يې ورکوي

د ارغنداو ښاروالي غواړي چي خپل ملکيت درې بابه د انارو باغچې د درو کلونو له پاره د داوطلبۍ په ذريعه، په اجاره ورکړي. هر څوک چي يې غوښتونکي وي، خپل غوښتنليکونه دي د روان ۱۴۰۵ل کال د غبرګولي مياشتي د شپږويشتمي نېټي څخه بيا د سرطان مياشتي تر دوهمي نېټې پوري، د ارغنداو ښاروالۍ ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي، لس سلنه تضمين نغداً اخيستل کېږي او د داوطلبۍ مجلس، د روان کال د چنګاښ مياشتي پر دريمه نېټه، د چهارشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، په ارغنداو ښاروالۍ کي ترسره کېږي.
يادونه: هر څوک چي په داوطلبي کي ګډونکي سول، ګټونکی شخص به په ضمانت کي يو شخص د تضمين په ډول راولي.

قرارداد کوي

د کندهار ولايت، د عامي روغتيا رياست په نظر کي لري چي د ۱۴۰۵ل کال له پاره د (۴۱۰۰۰) زره بالونه د اکسيجن قرارداد تر سره کوي، چي مشخصات يې په شرطپاڼه کي ذکر سوي دي. هغه شرکتونه چي د تدارکاتو پر قانون برابر وي او قانوني مشکل و نه لري، خپل غوښتنليکونه دي د عامي روغتيا رياست ته چي د رئيس عطاجان جامع پر مخامخ موقعيت لري، د څوارلسو کاري ورځو په جريان کي خپل غوښتنليکونه وړاندي کړي. د اعلان د نشر نېټي څخه شرطپاڼه د ولايت مقام څخه تر لاسه کولای سي او هم د آفر خلاصېدو او داوطلبۍ نېټه د روان کال د چنګاښ مياشتي پر دريمه نېټه، د چهارشنبې سره برابره ده، د سهار پر لس بجې، د کندهار ولايت مقام د غونډو په تالار کي تر سره کېږي.

په کرايه يې ور کوي

د کندهار ولايت د ۲۰۵ البدر قول اړوند پطرول پمپ چي د ډنډ ولسوالۍ په کشاني کلي کي، د سړک پر غاړه موقعيت لري. هر هغه څوک چي ياد پطرول پمپ د درو کلونو له پاره په کرايې د اجارې په ډول غوښتونکي وي، خپل غوښتنليکونه دي د روان ۱۴۰۵ل کال د غبرګولي مياشتي د پنځه ويشتمي نېټې څخه بيا د روان کال د چنګاښ مياشتي تر خلورمي نېټې پوري د (۱۰) ورځو په موده کي، د کندهار مستوفيت رياست، د امارتي املاکو لوی مديريت ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي، د يو کال تضمين نغداً اخيستل کېږي او د يادي داوطلبۍ آفرونه د روان کال د چنګاښ مياشتي پر شپږمه نېټه، د شنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، د تعين سوي هيئت په حضور کي، د امارتي املاکو په عمومي مديريت کي تر سره کېږي.

قراردادي ته اړتيا لري

د سپين بولدک ښاروالي غواړي چي د ۱۴۰۵ مالي کال د عراده جاتو او جنراتورونو له پاره د روغنياتو (پطرول، ډيزل، مبلين او فلټر) قرارداد وکړي. ټول هغه شرکتونه چي د دې قرارداد د سرته رسولو وړتيا ولري او پر شرايطو برابر وي، کولای سي چي خپل غوښتنليکونه د ۱۴۰۵ل کال د غبرګولي مياشتي د ۲۷ نېټې څخه بيا د روان کال د چنګاښ مياشتي تر شلمي نېټې، د شنبې تر ورځي پوري، د سپين بولدک ښاروالۍ د تدارکاتو مديريت او کندهار ولايت مقام مالي او اداري رياست ته وسپاري او داوطلبي د روان کال د چنګاښ مياشتي پر يو ويشتمه نېټه، د يکشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې د تعين سوي هيئت په حضور کي د کندهار ولايت مقام په مالي او اداري رياست، اجرائيه مديريت کي صورت نيسي.

دورکي اعلان

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د عبدالسلام د الله داد د زوی او د محمد ګل د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0702261237

* * *

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د بشير احمد د محمد عمر د زوی او د وزير د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0701476763

* * *

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د نياز محمد د حاجي پير محمد د زوی او د لعل محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0700374359

* * *

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د محمد زاهد حنفي د محمدسليم حنفي د زوی او د محمد انور د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0708353639

* * *

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د عزت الله د عطاءالله د زوی او د عبدالرحيم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0704260946

(۱) مخ پاته: د بهرنيو چارو وزير: افغانستان د...

فرصت محوره او همکارۍ محوره روايت ولاړي، تر بل هر وخت ډېري پياوړي او پراخي سوي دي.
د هغه په خبره، شته ننګوني او فرصتونه د دې اړتيا لا روښانه کوي، چي په سيمه کي د علمي او څېړنيزو بنسټونو ترمنځ، همکاري او ګډه څېړنه نوره هم پياوړې سي.
د بهرنيو چارو وزير همدارنګه وويل: «افغانستان د منځنۍ او جنوبي آسيا ترمنځ، د طبيعي نښلوونکي پله په توګه د سيمه ييز اتصال له پاره ستر ظرفيت لري، اړتيا ده چي د کاسا۱۰۰۰، ټاپي، ټاپ، د لاجوردو لار، د افغان–ټرانس د اوسپني پټلۍ پروژه او نوري ګډې سيمه ييزي ترانزيتي لاري او پروژې د دقيقو اقتصادي مطالعاتو، راتلونکي ليد او څېړنيزو آرزونو له لاري ملاتړې سي، څېړنيز مرکزونه بايد د دې پروژو ګډې ګټې روښانه کړي، څو د هيوادونو ترمنځ متقابل باور پياوړی سي.»
هغه ټينګار وکړ، علمي او څېړنيزه همکاري، د ولسونو او هيوادونو ترمنځ، تر ټولو پايدار، کم لګښته او اغېزمنه ډيپلوماسي ده.
د يادوني وړ ده، چي نوموړي همدارنګه د ايران او متحده ايالتونو ترمنځ، سوې هوکړه مثبت ګام وباله او ټينګار يې وکړ، چي جګړه د سيمي د هيڅ هيواد په ګټه نه ده.

(۱) مخ پاته: د ميل ۷۸ ابو نصر فراهي سړک...

پاته برخو چاري په چټکۍ سره رواني دي.
ياد سړک د هيواد له مهمو اقتصادي او ترانزيتي لارو څخه ګڼل کېږي، چي د ابو نصر فراهي سرحدي بندر له لاري افغانستان له ايران سره نښلوي. د دغه سړک رغونه د سوداګريزو توکو د لېږد – رالېږد اسانتيا برابروي، د ترانسپورتي لګښتونو په راکمولو کي مرسته کوي ،د سيمي د اقتصادي ودي او سوداګريزو اړيکو په پياوړتيا کي مهم رول لري.

(۱) مخ پاته: د اوبو ذخيره کولو بند جوړ او...

اووه سوه زره افغانيو په ارزښت، د تخته پل ولسوالۍ د اکاخېل په سيمه کي د اوبو ذخيره کولو يو بند جوړ او ګټې اخيستني ته وسپارل سو.
د ياد بند د جوړېدو موخه د باراني اوبو ذخيره کول، د سيمي بزګرانو او مالدارانو د اوبو ستونزي راکمول، تر ځمکې لاندې د اوبو سطحه لوړول، د سېلابونو مخنيوی، د کارېزونو او اوبو سرچينو پياوړي کول دي، چي پر يوه وخت د ۳۰ زره متره مکعبه اوبو ذخيره کولو ظرفيت لري او د دوو کلونو په موده کي رغول سوی دی.
د يادوني وړ ده، چي تېره مياشت د کندهار ولايت په ميانشين ولسوالۍ کي هم د اوبو ذخيره کولو د يو بند د بيارغولو چاري بشپړي او ګټې اخيستني ته سپارل سوي وې.

(۱) مخ پاته: د پاکو اوبو رسولو شبکه بشپړه او...

د يادي شبکې د پرانيستني په مراسمو کي د کلو، بيا رغوني او پراختيا رياست رئيس مولوي دوست محمد سعيد ويلي، او به يو لوی نعمت دی او د بې ځايه مصرف څخه يې ډډه وکړئ، ترڅو په راتلونکي کي د پاکو اوبو له کمښت سره مخ نه ياست او زياته يې کړه، د يادي شبکې جوړول زموږ مسؤليت و او د ساتني مسئوليت يې تاسو ته سپارو.

(۱) مخ پاته: څلور ټنه پاکستاني درمل...

د هغه په خبره، ياد درمل له پاکستانه د نيمروز ولايت له لاري هرات ته قاچاق کېدل، چي د امنيتي ځواکونو له لوري يې مخه ونيول سوه او دغه درمل په ۲۵۰ کارټنونو کي ځای پر ځای سوي او ټوليز ارزښت يې شاوخوا ۷,۵ ميليونه افغانۍ اټکل سوی دی.
د مسئولينو په خبره، د يادي پېښي په تړاو يو تن نيول سوی او د نورو قانوني اجراآتو له پاره اړوندو ادارو ته سپارل سوی دی.
د بل خبر له مخي د نيمروز ولايت د امنيې قوماندانۍ وياند مولوي ګل محمد قدرت باختر اطلاعاتي آژانس ته ويلي، دوه ټنه او ۱۰۰ کېلو ګرامه انساني درمل، چي په يو موټر کي ځای پر ځای سوي وو او غوښتل يې له پاکستانه نيمروز ولايت ته قاچاق سي، د امنيتي ځواکونو له لوري کشف او ضبط سول.
د هغه په خبره، د يادو درملو د قاچاق په تړاو څوک نه دي نيول سوي او په دې اړه پلټنې رواني دي.
هغه زياته کړه، د نيمروز د امنيې قوماندانۍ د عمومي لويي لاري کنډک د لومړۍ ټولۍ اړوند، ځواکونو د عملياتو پر مهال ۱۳ کېلو ګرامه تارياک، شپږ کارټنه څراغونه او درې کارټنه د ښځينه جامو ټانونه هم کشف او ضبط کړي دي.
د مسئولينو په وينا، د قاچاق د مخنيوي او د غير قانوني توکو په وړاندي د مبارزې لړۍ په جدي ډول روانه ده.
د يادوني وړ ده، چي په دې وروستيو کي د نيمروز ولايت په بېلابېلو سيمو کي د انساني درملو او نورو قاچاقي توکو د انتقال ګڼي هڅي کشف او شنډي سوي دي.

(۱) مخ پاته: زرونه کېلوګرامه بېلابېل...

صاحب باختر خبري آژانس ته ويلي: ياد نيول سوي درمل د ګرځنده ټيمونو له لوري د تېرو دوو مياشتو په موده کي په داسي مهال چي د ګاونډي هيواد څخه قاچاقي راوړل کېدل، نيول سوي، چي د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د ۲۴مه ګڼه فرمان له مخي او د محکمې تر پرېکړي وروسته له منځه يوووړل سول.
د هغه په قول، هيڅ کوم کس ته اجازه نه ورکوو چي په غير قانوني توګه له هيواده کوم توکي صادر او يا هيواد ته را وارد کړي.

د ورکي اعلانونه

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د عبدالصمد د نېک محمد د زوی او د صالح محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0744718076

* * *

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د محمد نبي د محمد نظام د زوی او د محمد امان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0704746837

* * *

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د ادريس احمد د قدرت الله د زوی او د علي جان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0705038864

* * *

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د خوشحال بزګر د عبدالغفور بزګر د زوی او د عبدالقيوم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0705580970

* * *

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د منير احمد حکيمي د عبدالحکيم د زوی او د عبدالحليم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0705006232

* * *

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د محمد ادريس د حاجي بسم الله د وزی او د امان الله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700551772

* * *

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د حاجي ګلالی د حاجي عبيدالله د زوی او د حاجي عبدو د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0702876062

* * *

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د حميدالله د محمد سليم د زوی او د محمد سرور د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0702930078

* * *

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د فيصل د محمد داؤد د زوی او د عبدالغفار د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0708636684

* * *

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د حکيم الله د عبدالله د زوی او د اسدالله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700345953

* * *

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د عبدالله د نازه مين د غلام هارون د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0705170425